مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۴/۰۳

# «سر په دار لګ شوی ښه دی
# نــه لــګ شـوی پــه پـیـغـور»

د هرې ژبې کارپوهان وايي چې د علم د متود له مخې ښايي په ژبه کې په پرله پسې ډول ځيرني، شنني، د نويو لغتونو موندني او پلټني وشي او دا د ژبې د هر  ځيرونکي او ژبپوه دنده ده، چې خپله ژبه د ښاينې او غنا لوړ پوړ ته ورسوي، نه دا چې د دري ژبې شاعر په نوم کوم کس دومره ولوېږي،چې په پردي هېواد کې خپل ځان ټيټ او خپله خاوره د بل وګڼي.

په تهران کې د نجيب بارور په نوم يو مهاجر غوړه مالي،چې د ايران جمهور ريس علی خامنه ای  ته يې کړي او په اصطلاح هغه يې د فارسی ژبو مشر ياد کړی، ځان يې ورته د هندوکش له غرونو د ايران پنجشير ولسوالی اوسيدونکي ورپيژاندلي دی. په دغه شيبه کې ځان د حقارت او ټيټوالي تر ټولو وروستی حد ته رسولي دی. دی اوس د ډيرو وطن پالو هېواد والو له پاره يوه يوه پېژندل شوي کرغيړنه څيره ده او له سختو پيغورنو سره مخ شوي دي. ده خبرو ته د ټولو افغانانو  غبرګون يو ډول دی، هغه که د هېواد په پښتو ، دري او نورو ژبو غږيږي.

د دعوت او افغان جرمن انلان پر پاڼو، يو بل ځاي مې هم د تبصره کونکو ليکني او ارزوني ولوستي او په ډير درد سره راته د خپل خوار ملت د ځينو د شخصيت له پلوه د وروسته پاتې وطنوالو کمزورۍ نوره هم جوته شوه، دغه شخص په دې شيبه کې خپل ټيټ شوی سر د يو  پردي هېواد مشر ملا تر مخ لا نور هم  ټيټ کړی دی، په دې سپک عمل سره د ده نوم او ناوړه څيره يې د  پيژندني لوړ پوړ ته رسيدلی او دا بيت ورسره ډير سمون لري:

سر په دار لګ شوی ښه دی     نه لګ شوی په پيغور

ځومره دردونکي ده، يو کس له افغانستان څخه ځي او د شعر ويلو يا مشاعرې په مجلس کې د ايران جمهور ريس ته ځان دومره ټيټوي او د يو ستر ملت د يوې سيمې د لوړ برم او وقار شتون  چې د ده تر خولې ډير ستر دی، ايران ته منصوبوی.

موږ هغه مهال د خپل هېواد او ولس د کلتور پر لوړ وقار ملنډې ووهلې چې د جمهوريت پر مهال مو د خپل هېواد په دري ژبه کې اصيل نومونه او لغتونه پر ايراني نومونو واړول. دا ټول د هغه مهال د اطلاعاتو او کلتور وزير او مسولينو شرمونکي کړني دي،چې خپل کلتور او ژبې ورته هيڅ ارزښت نه درلود او په تاريخ کې ساري نه ليدل کيږي.

په هغه مهال کې به چې پر تلويزوني ناستو کې د ژبې کوم کارپوه ګډون کونکي نيوکه کوله، هم به د اړوند تلويزون د خپروني چلونکي، چې ډير کله به په طلوع تلويزون کې وې، هلته به د ناوړه غبرګون او هم د نورو ګډونوالو د سختو نيوکو سره مخ کيده.

ما په خپله ډير کله داسي حالت تجربه کړی دی. څو وارې چې مې نيوکه کړي، نو مقابل لوري درې ويونکي چې په مهم پوست کې به يي کار کوو، دا يوه بې ځايه خبره ګڼلې او ويلي دي، چې تاسي تعصب لرئ.

لکه يوه ورځ يو دري ژبې همکار مې زما د ماشومانو کيسې کتاب په هکله راته وويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

«تاسي د ماشومانو له پاره کيسه ليکلي خو ستره تيروتنه په کي شوی ده او چوچه مرغ مو ليکلي، چي سم نه دی او بايد جوجه مرغ وايې.» ما کړه:

«ژبه خو د ټولني د اکثريت له خبرو ښکاري،چي هر څيز په کوم نوم يادوي، هماغه بايد په ليکنو کی راشی او ما دا کار کړی دی.» هغه په خپله خبره ټينګ ولاړ و، ما ورته وويل:
«که تاسي راسره همدا اوس د هېواد له هر يو عام دري ژبي څخه وپوښتئ او هغه دا ومني چي د چرګي چرګوړي ته جوجه وايي، نو زه به خپله ليکنه بيرته واخلم. يا لکه پيلوټ ته خلبان ووايي، ورته ډير نور نومونه چي زموږ په ټولنه کي پردي دي»

هغه زما خبرو ته ځواب نه درلود، خو پر خپله خبره هم ټينګ ولا و.
دغه راز يوه ورځ څو تنو دري ژبي همکارانو راسره په همدي موضوع خبري کولي او دا استدلال يي کوو،چي په هېواد کي چي کوم نومونه بدل شوی دا ښه کار شوی دی. ځکه ايرانی فارسی ژبه پرمخ تللي ده او زموږ په دري ژبه کي دا پرمختللي لغتونه نه موندل کيږي. په دې شيبه کي زموږ آلماني همکار چي په خپله يې په افغانستان کی شپږ اوه کاله کار کړی و او يو اکاديميک شخص و، وويل:

«زه ډير کله ستاسي په هېواد کي د افغانانو تر منځ د داسی بحثونو شاهد وم.» هغه چي په دري ژبه رواني خبري کولي زياته يي کړه:
«تاسی افغانانو ته حيران يم، ستاسي وجدان يي ښنګه مني چي د يو بل هېواد ژبني اصطلاحات راوړئ او په خپله ژبه کي ځاي پر ځاي کړئ.»

هغه زياته کړه، موږ ته وګورئ چي له اتريش يا سويس سره ګډه ژبه لرو، يعني يوه الماني ژبه ده، خو هيڅکله اجازه نه ورکوو، چي د هغوي ژبني اصطلاحاتو ته په خپله ژبه کي ځاي ور کړو.ځکه هر هېواد ځانته ځانګړي کلتوري ارزښتونه لري.

ماته يي خبري په زړه پوري وي،خو د دري ژبي همکارانو له پاره د هغه خبري هسی اپلتی وي،چي هيڅ ارزښت يي ورنه کړ او نه ورته غوږ شول.

په دې ارزښت خو بايد موږ پوه شو،چي هره ټولنه ځانته ټولنيز نورمونه او ارزښتونه لري او د ټولني هر پوه او تحصيل کړي کس ته په کار ده، چي د خپلي ژبي د غنا او بداينې له پاره کار وکړي، نه دا چي د يو بل هېواد ولس مشر ته ځان ټيټ کړي، شرمونکي خبرې وکړي او يا هم د پردی ژبي اصطلاحات او لغتونه پر خپله ژبه کي ونښلوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ